**بسم الله الرحمن الرحيم**

# غرب ته ازادي سپېڅلې دي




**(ژباړه)**

## خبر:

د پاکستان د بهرنيو چارو وزير، شاه محمود قريشي د سې‌شنبې پر ورځ وويل، چې هغه له سپکاوي څخه د ډکو کاريکاتورونو د سيالۍ په اړه له خپل هالنډي سيال سره خبرې کړې او همدارنګه د اسلامي همکاريو له سازمان (OIC) څخه يې غوښتې دي، چې په دې اړه يوه بيړنۍ ناسته جوړه کړي چې په هالند کې پلان شوي کفري راتلونکې ته د ځواب ويلو لپاره د ټولو د رايو په تائيد يوه موضوع غوره کړي.

په هغه مطبوعاتي کنفرانس کې، چې د فدرال په ودانۍ کې جوړ شوی و، د بهرنيو چارو وزير وويل، چې هغه يې له خپل هالنډي سيال سره خبرې کړې او ورته ويلي يې دي، چې له سپکاوي څخه د ډکو کاريکاتورونو د سيالۍ لپاره د هالند د پارلمان د استازي ګرت ويلدرز ناوړه عمل د خلکو غوسه را پاروله، چې په ټوله نړۍ کې يې د مسلمانانو احساسات ځپلي دي. د داسې کړنو سرته رسول به تاوتريخوالی او دوښمني پراخه کړي. (سرچينه: د پاکستان ډاون ورځپاڼه، ۲۰۱۸م د اګست ۲۹مه)

## تبصره:

د هالند د ازادي غوښتونکي حزب د وروستي سپکاوي په ځواب کې د اجتماعي رسنیو د پیغامونو له مخې د پاکستان د ټولو خلکو غوښتنه پر هالنډ د مالونو بندیز دی. ځینې هم د درېیو ورځو لپاره د یوتیوب او ګوګل د کانالونو د بندېدو غوښتونکي شول. ځینو له مسلمانانو څخه وغوښتل چې صبر وکړي او د اسلام او رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښوونو د رسولو لپاره د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له سنتو څخه یو عمل غوره کړي. انلاین اعتراضونه روان وو او اعترضي لاریونونو، چې د پاکستان د لبیک تحریک په واسطه رهبري کېدل، ادامه لري، تر څو حکومت خپلې دیپلوماتیکې هوکړې له هالند سره پرې کړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له سپکاوي څخه ډکې کړنې بې توجه او همدارنګه نوې نه دي. د مسلمانانو غوسه به سړه شي او ځینې احساسات به د ځینو نورو کړنو په واسطه، چې توصیه شوې دي له منځه ولاړ شي.

اصلي ستونزه دا ده چې په غربي نظام کې د بیان ازادي تقدیس کېږي او دا هغه دفاع ده چې ددغه کار لپاره ترسره کېږي. ازاد بیان که څه هم واضح نه دی تعریف شوی، خو له نفرته ډکې خبرې هم نه دي. دا د هغو کسانو لپاره کمزوری تفسیر دی، چې پرېکړه یې کړې او د خپلې شخصي برنامې لپاره یې کاروي.

دا باور شته دی چې د بیان ازادي به د مفکورو د پرمختګ لامل شي او د مناظرو بندول ظلم دی، کلیسا او سلطنتي حکومتونو په تېر وخت کې دا کار کړی دی. نو ځکه دین هېڅکله د ازادیو د مخنیوي لپاره د یوه دلیل په توګه ونه منل شو او د فکر دا ډول په دې معنا دی، چې هر کس او هر کار مسخره او ریشخند کیدلی شي.

په دې موضوع کې تناقص ډېر ښکاره دی، مثلا د هولوکاست د تکذیب او یا سوال په اړه خبرې سمې نه دي. همدارنګه په یاد مو دي، چې ډېرو ملتونو حجاب او نقاب منعه کړی او هغوي هغه اهمیت چې په دې موضوع کې یې ازادۍ ته ورکوي، هېر کړی دی.

کله چې مسلمان رهبران خپله غوسه ښکاره کوي او همدارنګه د هالنډ د بهرنیو چارو له وزیر سره په اړیکه کېږي، په اصلي قضیه کې یوه ګډوډي شته ده، دا چې ازادي څه ارزښت لېږدوي او په غربي ژوند کې اساسي دي. د هیواد صدراعظم عمران خان د داسې پېښو را منځته کېدل ـ چې د اسلامي نړۍ ناکامي ګڼل کېږي ـ وغندل. هغه وایي دا موضوع به د ملګرو ملتونو په راتلونکې عمومي غونډه کې مطرح کړي.

دا اسلامي نړۍ ته یوه ستره ناکامي ده، د هېواد صدراعظم دا له خپل شخصي ادرس څخه د دوشنبې په ورځ د سناپه مجلس کې وړاندې کړ. عمران خان وویل: «د اسلامي همکاریو سازمان(OIC) باید ډېر مخکې دا موضوع څېړلې وی او یوه عملي ستراتېژي یې پلې کړې وی، خو اوس باید دا سازمان د یو لړ نفرت اچوونکو حرکتونو څخه

چې ترسره کېږي، را ويښ شي، هغه حرکتونه، چې د مسلمانانو احساسات څېړي.» (سرچينه: اکسپرس تريبون، ۲۰۱۸ م کال د اګست ۲۷مه)

عمران خان وړانديز کوي، چې بايد د غربي نظام پر يوه برخه (پر ملګرو ملتونو) فشار راوړو. دا سازمان د ارماني ازاديو د ملاتړ لپاره جوړ شو او په نړۍ کې د يوه ليد د وړاندې کولو په هڅه کې دی. حق او باطل، ښه او بد، تګلارې او ارزښتونه ټول د يوه معيار په واسطه چې هماغه د سيکولر معيار دی، مشخص کېږي. په اسلام کې دا يو تناقص دی، چې دا موضوع هېڅکله د دوی د بقا د علت په توګه ونه شمېرل شي. د ازار، غوسې او ځورولو احساس د مسلمانانو په نزد پر هغې عقيدې پورې اړوند دی، چې دوی يې لري. مسلمانان حضرت محمد صلی الله عليه وسلم او نورو ټولو پيغمبرانو عليهم السلام ته احترام لري او د عقيدې د يوې برخې په توګه ورسره محبت لري. دا به هغه کس ته چې ازادي د عقيدې په ښه لېږدوي، هېڅکله معنا ونه لري، ځکه چې د کس پرېکړه د دې په اړه چې څه شی مقدس دي او څه شي ته سپکاوی د منلو وړ دی، پخپله فرد پورې تړاو لري.

د مسلمانانو د رهبرۍ د نشت له کبله، زموږ پر دين او امت د نويو حملو په وخت کې مسلمانان تل يوازې اتفاقي ځوابونه اوري. موږ نه شو کولای له با ثباته سيکولرو ملتونو او ازادي غوښتونکو جوړښتونو څخه وغواړو، چې په منظم ډول لکه څنګه چې موږ غواړو چلند وکړي. دا به يوازې يوه ايډيالوژيکه او با اخلاصه رهبري وي، چې واقعي بدلون به راوړي او دا به په ډاګه کړي چې څنګه غير مسلمانان له اسلام او د پيروانو له احساساتو سره چلند وکړي.

دا يوازې د نبوت پر منهج د خلافت دولت دی، چې اسلام به نړۍ ته ورسوي او له اسلام او رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه په ښه ډول دفاع وکړي. که نه له هغه پرته موږ ووينو چې مسلمانان حکام څنګه د مسلمانانو له احساساتو سره لوبې کوي او په ورته وخت کې خپل دستور او هدايت له غرب څخه اخلي، له هغوی څخه حلالرې غواړي او د ژوند په کارونو کې ور څخه تقليد کوي، په داسې حال کې چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د محبت دعوی يوازې په احساسي ډول لري.

**ليکونکې: نازيه رحمان**

**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**۱۴۳۹هـ.ق، د ذوالحجې ۲۲مه**

**۲۰۱۸م، د سپټمبر ۲يمه**

**ژباړه: شجاع بشارت**